بسم الله الرحمن الرحيم

# په رمضان میاشت کې په لوږه روژې نیول؛ په غزه کې زموږ خویندې تر وخت وړاندې زیږون کوي او ماشومان یې مړه کېږي

**خبر:**

د ملګرو ملتونو د نفوس صندوق راپور ورکړی چې، «ښځې د وېرې او وحشت له تر وخت وړاندې زیږون کوي». ځايي روغتايي کارکوونکي هم تاییدوي چې ګڼ شمېر ښځې پر بدن د فزیکي فشار، مناسبو خوړو نشتوالي او په لوږه کچه رواني اغېزو له امله تر وخت وړاندې زیږون کوي. د دې ناوړه پایلې دا دي چې ډېری ماشومان مړه کېږي، ځکه چې تر وخت وړاندې زیږېدلو ماشومانو د ساتنې لپاره ماشینونه او نور اړین تجهیزات نشته.

**تبصره:**

دا خبر ښيي چې زموږ د فلسطیني امت مظلومیت یوه بې ساري ناورین ته رسیدلی. ډېری نړیوال څارونکي د غزې بشري ناورین بې ساري بولي. دا چې یو نوی زېږېدلی ماشوم د امکاناتو د نشتون په سبب نه شي ژغورل کېدلی او پرېښودل کېږي چې مړ شي؛ یو نه بښل کېدونکی جنایت دی چې د قیامت پر ورځ به یې د امت خاینین ځواب وايي.

د امت خویندې له یوه داسې حالت سره مخ دي چې د خپلو نویو زیږېدونکو ماشومانو د نوم ایښودو په اړه د فکر کولو پر ځای، د هغوی د خښولو د ځای په فکر کې وي.

دغه ناوړه کړنې د اسلام د تاریخ په نني فصل کې یوه نوې عادي خبره ده. د سږکال روژې میاشت څومره بدله ده؛ د خلافت دولت پر مهال روژه د جهاد او سترو فتحو میاشت وه. د زرګونه ښځو او ماشومانو ټولوژنه پر خپل ځای ده، اوس به د مړو په شمېر نازیږېدلي ماشومان هم ورزیاتوو. دا داسې خیانت دی چې یوازې د غرب د لاسپوڅو حکامو په لرې کولو کولو له منځه ځي. موږ د محمد صلی الله علیه وسلم امت ته وايو چې یوازې صدقه او دعا په دغه ابتلا کې راګېر مسلمانان نه شي ژغورلی. د الله حکم د عمومي افکارو یا احساساتو خبره نه ده. د اسلام دښمنانو د دسیسو پر وړاندې حللاره یوازې د اسلام حاکمول دي؛ موږ باید د اسلام د حاکمولو لپاره د الله سبحانه وتعالی پر نصرت متمرکز پاتې شو تر څو زموږ راتلونکی نازیږېدلی امت هیڅکله له داسې ګواښ سره مخ نه شي.

**«قُلْ تَعَالَوْاْ أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلاَّ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَلاَ تَقْتُلُواْ أَوْلاَدَكُم مِّنْ إمْلاَقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ وَلاَ تَقْرَبُواْ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ»** [انعام : ۱۵۱]

**ژباړه:** *«ورته ووايه، راشئ، زه تاسو ته هغه څه ووايم چې ستاسو رب پر تاسو حرام کړي؛ له الله سره څوک مه شریکوئ او له مور او پلار سره ښه چلند کوئ، د لوږې له ویرې اولاد مه وژنئ او موږ تاسو او هغه ته روزي ورکوو، کبیره ګناهونه مه کوئ که هغه د خلکو په وړاندې وي که په پټه او څوک له (قصاص پرته) مه وژنئ چې الله حرام کړی دی. دا هغه کړنې دي چې خدای په کلکه تاسو هغو ته رابولي ترڅو پرې وپوهیږئ او له عقل څخه کار واخلئ.»*

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## عمرانه محمد

## د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر غړې

**۱۴۴۵هـ.ق کال، د رمضان ۸مه**

**۲۰۲۴م کال، د مارچ ۱۸مه**